بسم الله الرحمن الرحيم

# <u>خبر او تبصره</u>

## هغه تصوير چې بايد امريکا رسوا کړي

**خبر:**

په تصوير کې امجد العبدالله ښکاري چې په خپل د بمونو په واسطه نړېدلي کور کې، خپلو دوو لوڼو ته په ډېر وېربېدلي او وحشت خوړلي وضعيت کې ورګوري. هلته پنځې کلنې ريحام خپله د اوو مياشتو عمر لرونکې خور، توقا له کميسه رانيولې چې له لوېدو يې وژغوري. د دوی مور په چاودنه کې وژل شوې وه او ريحام هم له ټپي کېدو وروسته ساه ورکړه. انا لله و انا اليه راجعون!

بي بي سي وروسته له هغې رپوټ ورکړ چې دغه زړه‌بوږنوونکی تصوير په ټولنيزو رسنيو کې په پراخه کچه خپور شو، دوی وليکل: « دغه تصوير بيا د سوريې جګړې ته -چېرته چې د روسيې په ملاتړ حکومت هڅه کوي چې بيرته له جهادي او ياغي ډلو څخه ادلب ونيسي - د ټولو پام وراړوي.»

تېره اونۍ ملګرو ملتونو ووېل چې د اپريل په ۲۹مه په شمالي سوريه کې د جګړې له ډېرېدو وروسته له ۳۵۰ ډېر ملکي وګړي وژل شوي او ۳۳۰،۰۰۰ نور د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي.

**تبصره:**

بي بي سي د دې لپاره چې د دغو تصويرونو په ليدو د مسلمانانو غوسه کنټرول کړي يا يې د بې ګناه قربانيانو له خواخوږۍ نه پام بلې خواته واړوي، تل د الاسد د دولت وحشتناک ظلمونه توجه کوي، دوی نورو ته له ياغيانو نه، چې دوی يې جهاديان او ترهګر بولي، د سوريې بېرته نيول د بشار د دولت د حق په توګه وړپېژني. د دوی رپوټونه د سوريې د هغو وګړو هېڅ غم نه خوري چې د خلکو له شورش او راپورته کېدو وړاندې او هم راوروسته د ظالم بشار او کورنۍ لخوا يې ځورېدل او تر ظلم لاندې وو. مشهورې رسنۍ او د غرب خبرې تل رژيم قانوني ښيي، په داسې حال کې چې د غرب او بشار دواړو لاسونه په وينو ککړ دي. له همدې کبله روسيه او ياغيان ملامتوي او له

اصلي ډایکټر او استعماري قدرت نه د خلکو پام بلې خواته اړوي چې بشار يې ګومارلی او ملاتړ يې کوي.

د سوریې رژیم د امریکا له خوا جوړ دی، همدوی يې ملاتړ کوي په بدل کې يې که څه هم امریکا بل ډول ښيي خو د بشار د پلار د واکمنۍ له دورې راهیسي تر ننه د امریکا ګټو ته په ډېر اخلاص کار کوي او د خپلو خلکو پر وړاندې دسیسې جوړوي.

سربېره پر دې، امریکا په سیمه کې خپل غلامان روزلي او د روسیې له پوځ نه د وسیلې په توګه کار اخلي چې په هره بیه چې کېږي د تقریبا ماتې خوړلي بشار دفاع وکړي؛ ان که دا بیه د دغه هیواد د زړو او ځوانانو اوسېدونکو له منځه وړل وي.

کله چې حفتار په لېبیا کې وژل کوي، حوثي ملیشي په یمن کې عام وژنه کوي او البرهان په سوډان کې اعتراض کوونکي وژني، نو د ملامتیا ګوته هغو رهبرانو ته نیول کېږي چې وژونکو ته امر کوي. له دې پرته د مسلمانو رهبرانو په موضوع کې، دغه ډول رهبرانو ته د استعماري قدرتونو له لوري امر کېږي او دغه قدرتونه له دوی نه ملاتړ کوي چې د داسې وژنو امر ورکړي.

اوسنۍ نړۍ د یوه حریص پانګوالي نظام په له لوري اداره کېږي چې د خپلې ګټې لپاره نړۍ تر خپل ښکېلاک لاندې راولي او لوی شمېر انسانان وژني. اوسني ډیکټاټور او ظالم حکام یوازې د غربي استعمارګرو دولتونو موقتي مامورین دي، نو که خلک دوی ملامتوي او ورته غوسه کېږي، پر اصلي ریښه او سرچینه يې هم باید سترګې پټې نه شي.

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره

## یحیی نسبت

## په برتانیا کې د حزب التحریر مطبوعاتي استازی